مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور آخر

۲۰۲۳/۰۶/۲۱

# د جمهوریت د سقوط عوامل
# د جنګسالارانو ونډه

(دیارلسمه برخه)



(وروسته له هغې چې د جنرال دوستم کسانو پر سقاؤیانو ډزې وکړې، د سقاؤیانو تابوتونه په کوڅه کې پراته دي، د ډزو له وېرې د تابوتونو پر سر ګلان ګډوډ ښکاري، د تابوتونو پوښونه په بل مخ (سرچپه) اچول شوي دي، ننې سقاؤیان هک حیران ورته ولاړ دي.)

## تر ټولو ستر ورانوونکی، په سیاسي جامه کې، جنګسالار ډاکټر عبدالله، عبدالله (۶)

### د ملي وحدت حکومت، د اجرائیه رییس عبدالله کرنې

وروسته د سقاؤیانو د جنازې لمونځ پیل شو، په ویډیو کې پرته له تاجکو د افغانستان د هېڅ یو قوم کسان نه ښکاري، تول د حبیب الله کلکاني بچه سقاؤ، سقاویان راغلي دي، امرالله صالح چې د جمهوریت په وروستیو کې یې ځان افغان باله هم راغلی و.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د جنازې ملا صاحب چې پکول یې پر سر او چپنه یې پر اوږو ده، په خپله هم بې باوره او په شک کې دی چې د جنازې لمونځ کوي که د اختر؟ په ویډیو کې وینو چې ملاصاحب له نیت کولو وروسته لاسونه وتړي خو کله چې لومړي تکبیر ته ورسیږي، **نو لاسونه غوږونو ته پورته کول غواړي**، بیا یې پام شي چې د جنازې لمونځ دی نه د اختر.

د سقاویانو مشرانو وړاندې له دې له جنرال دوستم سره پرېکړې ته رسیدلي وو چې د کابل د (کلوله پشتې) په غونډۍ کې به د سقاویانو هډوکي ښخیږي خو د سقاویانو لنډغرو تینګار کاوه چې تابوتونه په شهر آرا غونډۍ کې په زور ښخوو. د جنازې له لمانځه وروسته د سقاویانو تر منځ لوی شور جوړ شو، ناري یې وهلې: خپل شهیدان د شهرآرا په غونډۍ کې ښخوو او مرده باد دوستم ناري پورته کیدلې. هغه وو چې تابوتونه یې د شهرآرا غونډۍ پر لور پلي روان کړل، په ویډیو کې لیدل کیږي څومره چې سقاویان د شهرآرا غونډۍ ته نږدې کیږي شمېر یې کمیږي. د سقاویانو مشران خو لا دمخه د جنازې له لمانځه وروسته ورک شول، د شهرآرا غونډۍ ته په ورغلي کوڅه کې یوازې هغه کسان چې تابوتونه یې پر اوږو دي او لږ شمېر نور کسان لیدل کیږي، د دوستم وسله وال کسان چې له وړاندې د شهرآرا په تاریخي کلا کې ځای پر ځای شوي وو، پر سقاویانو یې ډزې وکړې، **سقاویانو تابوتونه په کوڅه کې وغورځول** او ټول یو پر بل د دیوالونو تر شا پټ شول، په ډزو کې نږدې تر ۱۳ کسانو پورې مرګ ژوبله واوښته، وروسته دولتي ځواکونه سیمې ته ورسیدل خو د دوستم ځواکونو په کلا کې څوکۍ نیولې وې.

دا مهال چې سقاویانو حالت ولید چې د خادم دین رسول الله او د هغه حواریونو تابوتونه په کوڅو کې پراته دي نو جنرال دوستم ته ورغلل، محقق، معصوم ستانکزی او نور یې واسطه کړل او په زاریو یې پیل وکړ. په ویډیو کې ښکاري چې د سقاویانو مشران جنرال دوستم ته زارۍ کوي وایي:«... ستاسو امر منل شوی دی، ته زموږ د ټولو رهبر یې... موږ غوښتل مسایل هغه ډول چې لازم وو ترسره شي، په دې ډول نه وو چې موږ یې له هغې هدیرې وباسو په دې هدیره کې یې ښخ کړو، موږ تصمیم درلود چې چهارصد بستر روغتون ته یوووړل شي ... له چهارصد بستر څخه تر [کلوله پشتې] هدیرې پورې خلک په لیکه ولاړ وي، ګلونه پرې وشندي... خو له بده مرغه احساساتي هلکانو پرې نه ښودلو چې موږ دا کار وکړو... اوس چې موږ دلته ټول ورونه راغلي یو ته زموږ د ټولو مشر یې، د یو قوم مشر نه یې... **اوس موږ ټول ستاسو د لطف او شفقت په انتظار یو ... .»**

جنرال دوستم چې ټینګ دریځ نه لري، په یوه خوږه خبره له خپل دریځه اوړي، پر دوی یې شفقت وکړ او د شهرآرا په غونډۍ کې یې د ښخولو اجازه ورکړه، سقاویانو په تیاره کې د خپلو غلو تابوتونه راټول کړل. (په داسې حال کې چې د اشرف غني، دوستم او فاشستانو([1]) د مرده باد ناري پورته کیدلې) ټوله



شپه تر سهاره چې د موټرو څراغونه یې روښانه کړي وو د بچه سقاؤ او ملګرو تابوتونه یې په ډېره بیړه او ډېره بې عزتي سره په خاورو کې ښخ کړل او ننیو سقاؤیانو د خپل حماقت له امله، د سقاؤ زوی وروسته له (۸۷) کلونو، یو ځل بیا په شرمونو وشرماوه.
هغه مهال د سقاؤیانو د مریستونو د څرنګوالي په اړه ډېرو پوهانو خپلې لیکنې ولیکلې چې له هغو څخه موږ یوازې د مرحوم ډاکټر سید خلیل الله هاشمیان له لیکنې یوه برخه رانقلوو، هاشمیان صاحب د سقاؤ د زوی ښخول په مرنجان غونډۍ کې نه مني او په دې دلایلو یې ردوي:«د نادر خان [د نیکه، نیکه] سردار سلطان محمد خان طلایي او د هغه لمسیان، سردار محمد یوسف خان او سردار محمد آصف خان چې د نادر خان ترونه کیږي په همدې غونډۍ کې ښخ شوي دي چې وروسته دا غونډۍ د محمد زیو د کورنۍ هدیره ونومول شوه.»

---

[1] ـ سقاؤیان پښتنو ته فاشستان وايي، سره له دې چې د فاشیزم په مانا نه پوهیږي، د سقاؤیانو دا حرکت په خپله د فاشستانو کړنې دي، د پخوانیو سقاؤیانو یوه بېلګه داسې ده چې «په کابل او نورو سیمو کې، یوازې کوهستانیان له مسؤلیت څخه خلاص وو ځکه چې د سقاو د سیمي وو. سید حسین چې د سقاو د بانډ پخوانی ملګری ؤ د حربيې وزیر (دفاع وزیر) شو چې د ترور او ظالمانه کړنو تر شا یو ځواک ؤ، دوی د دولت پخواني کارکوونکي او عادي خلک د عامو خلکو پر وړاندې وژل او شکنجه کول چې له هغې جملې څخه یو تن پخوانی قاضي چې د قرآن شریف آیاتونه یې لوستل په داسې حال کې چې د روسيې نمایندګی یوه تن له پیښې څخه فلم اخیست توټې، توټې کړ.» (ریه تالي ستیوارت؛ اور په افغانستان کې. ۷۰۰)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

مرحوم هاشميان زياتوي:«آيا سليم عقل دا اجازه ورکوي چي اعليحضرت نادر خان به د سقاؤ زوی او لارويان يې په هغه هديره کې ښخ کړي  چي د پلار او کورنۍ هديره يې وي... آيا په کابل کې بل ځای نه ؤ چې نادر خان د غلو او لاروهونکو يوه ډله چي هغه مهال ټول ملت کرکه ترې کوله او ټول ولس د هغه د اعدام پلويان وو، په خپله پلارنی هديره کې ښخ کړي؟»
...نادر خان وويل:«...ما د سقاؤ زوی نه دی وژلی، نايب سالار زلمي خان او نايب سالار سربلند خان او د جنوبي ولايت وسله والو چي کابل نيولی ؤ، سقاويان يې له ارګه وايستل په حضوري چمن کې يې اعدام کړل او مړي يې له ځان سره جنوبي ته يوړل... » (esalat.org/images/jassad-kalakani)
هاشميان صاحب وايي چي د جنوبي ولايت سرتېرو د سقاؤيانو اعدام شوي جسدونه له ځان سره وړي دي، دا ډول کړني د وزيرستان په سيمه کې شتون لري. داسي چي په وزيرستان کې دا يو دود ؤ چي وزيرو پښتنو به له انګرېزانو سره په جګړو کې د انګرېزانو مړي له ځان سره وړل او بيا به يې پر انګرېزانو باندې د هغوی خپل مړي پلورل چي دا ډول معاملي ته (بونګه) وايي، کېدی شي په دې موخه وزيرو او پکتياوالو د سقاؤيانو مړي له ځان سره وړي وي چي بونګه پرې واخلي.

دا چي له اصل موضوع بهر نه شو خو بيا هم اړينه وه چي د سقاؤ په اړه لنډ مالومات وړاندي کړو. اوس به راشو دې ته چي د ملي وحدت حکومت اجرائيه رييس چي په خپله يو سقاوی دی هغه د سقاؤيانو د ډرامي ترسره کولو حکم ورکړ خو ولسمشر اشرف غني څه مسؤليت درلود او څه ډول اصولي او قانوني

کړني يې ترسره کړې؟ لکه وړاندي مو چي ولوستل د سقاؤيانو د ښخولو په اړه له ولسمشر  غني څخه د رسمي فرمان غوښتنه شوي وه چي هغه فرمان ورنه کړ خو په دې سره ولسمشر  غني خپل مسؤليت نه دی ترسره کړی، ولسمشر غني لکه څه ډول چي لازمه وه ور او قانوني کړني تر سره نه کړې. داسي چي نوموړي موضوع يې ستري محمکې، علماؤ شورا، اوقافو وزارت او ملي شورا ته وړاندې نه کړه او پر خپل ځای غلی پاتي شو، د ولسمشر بې تفاوتي د دې سبب شوه چي سقاؤيانو څه غوښتل هغه يې وکړل.

که ولسمشر  غني د سقاؤ مسئله اړونده ادارو ته وړاندې کړې وای نو د شريعت په رڼا کې به داسي پرېکړه شوي وای چي سقاؤيانو ته به يې اجازه نه وه ورکړې چي د مړو هډوکي له خاورو وباسي او بل ځای يې ښخ کړي.
د سقاويانو د دغه عمل پر وړاندې، ځينو پښتنو چي د اشرف غني ورور هم ورسره ؤ، د کابل ښار په لاهوری دروازه کې د (نجات ځلي) په نوم بيا ځلي ځلی جوړ کړ چي د خلقيانو او پرچميانو د واکمنی په لومړيو کې نړول شوی ؤ، د نجات ځلی د نادر شاه د پاچاهی پر مهال، د وزيرستان او لويي پکتيا سرتېرو د ياد ساتلو په موخه جوړ شوی ؤ چي د کابل ښار يې د سقاؤ له منګولو ژغورلی ؤ.

که څوک په حق سترګي پټې نه کړي او حق ته حق ووايي نو د سقاؤ زوی او يارانو ته، د دوی د اعمالو پر وړاندې، د اسلام غوره شريعت سره سمه سزا ورکړای شوي ده، د دا ډول کسانو سزا په اړه رب العالمين په قرآن کريم کې موږ ته روښانه ښوونې کړې دي، فرمايي:

﴿إِنَّمَا جَزَاءُ الَّذِينَ يُحَارِبُونَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الْأَرْضِ فَسَادًا أَن يُقَتَّلُوا أَوْ يُصَلَّبُوا أَوْ تُقَطَّعَ أَيْدِيهِمْ وَأَرْجُلُهُم مِّنْ خِلَافٍ أَوْ يُنفَوْا مِنَ الْأَرْضِ ذَٰلِكَ لَهُمْ خِزْيٌ فِي الدُّنْيَا وَلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ﴾ (د مائدې سورت: ٣٣، ايت)
ژباړه:«د هغو کسانو سزا چي د خدای او د هغه له پيغمبر سره جګړه کوي او د ځمکې پر مخ باندې فساد رامنځ ته کوي (د وسلې په تهديد سره د خلکو په ځان، مال او ناموس باندې تېری کوي) يوازې دا ده چي اعدام دې شي؛ يا دې په دار وځړول شي؛ يا يې لاسونه او پښې ردو بدلي غوڅې شي؛ يا  له هيواده وشړل شي. دا دی په نړۍ کې د دوی لپاره ذلت او سپکاوی؛ او په اخرت کې لويه سزا لري.»


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ



**په دې لېنک کې د ننيو سقاوېانو کړنې او د پخوانيو سقاوېانو د ښخولو بهير کتلی شئ:**
[www.youtube.com/watch?v=0fijbAlnX8Q](www.youtube.com/watch?v=0fijbAlnX8Q)

نېټه: ۱۴۰۲/۳/۳۰ل. ل

**نور بيا**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ